# د بیت الله محسود لنډه پېژندګلو

اداره

په پینځم اګست ۲۰۰۹ د شپې په جنوبي وزیرستان کښې شوي ډرون حمله کښې د تحریک پاکستان طالبان مشر بیت الله محسود سره د خپلې ښځې وژلے شوے ؤ. د دې پېښې نه پس مختلف قسمه بیانونه راتلل شروع شوي وو. د حکومتي چارواکو وېنا وه چې بیت الله محسود په دې حمله کښې مړ شوے دے خو طالبانو تر هغې وخته د دې خبر تردید کولو کله چې د تحریک طالبان پاکستان ترجمان مولوي عمر ګرفتار شو او هغۀ د دې خبر تصدیق د تفتیش په دوران کښې وکړو. بیا مولوي فقیر محمد د خپل امارت اعلان وکړو او وې وئیل چې بیت الله مړ نۀ دے بلکې بیمار دے. څو ورځې پس د طالبانو له خوا اعلان وشو چې حکیم الله محسود د طالبانو امیر مقرر کړے شو. په دغه موقع د بیت الله محسود د مرګ تصدیق په دې لفظونو کښې وکړے شو شو چې د سخر په کور کښې په یوه ډرون حمله کښې ژوبل شوے وۀ او دوه ورځې مخکښې وفات شو.

مونږ دلته د بیت الله محسود یوه لنډه پېژندګلو خپلو لوستونکو ته وړاندې کوو:

هسې خو په وزیرستان کښې د القاعده او طالبانو خلاف د دې اوو کالو نه د جاري کاروایو په دوران کښې ګڼ مقامي طالبان کمانډران راغلل او لاړل ولې بیت الله محسود هغه یواځینے کمانډر ؤ چې د وزیرستان نه بهر په نورو قبائلو علاقو کښې ئې هم اثر او رسوخ لرل او تر مرګه ټولې دنیا دې د پاکستان د طالبانو د مشر په توګه پېژندو.

بیت الله محسود د پښتونخوا په بنو ضلع کښې د چاؤنۍ په علاقه داؤد شاه کښې پېدا شوے ؤ او د محسود قبیلې سره ئې تعلق لرلو او په محسودو کښې د شابي خېل څانګې نه ؤ. د دۀ پلار مولانا محمد هارون د داؤد شاه په یو وړوکي غونډې جومات کښې پېش امام ؤ



او هلته ورله خلقو یو وړوکے کور د اوسېدو په غرض ورکړے ؤ. د دۀ خاندان زیات وخت په بنو کښې تېر کړے ؤ.

د مولانا محمد هارون شپږ زامن وو چې د بیت الله محسود نه کشر یحیٰي خان محسود تېر کال په

بنو کښې نامعلومه کسانو وژلے ؤ. دا وخت د دۀ
څلور ورونړه ژوندي دي. د بيت الله محسود مشر
ورور ظاهر شاه او کشر محمد اسحاق هغۀ سره په
دې ډله کښې شامل دي. البته يو ورور ئې بهر ملک
کښې مزدوري کوي. پلار ئې څۀ موده وړاندې
وفات شوے دے او مور ئې لا ژوندۍ ده او دا وخت
په جنوبي وزيرستان کښې اوسي.

د بيت الله محسود وړومبے وادۀ په بنو کښې
شوے ؤ خو د هغې ښځې نه ئې اولاد نۀ ؤ نو تېر کال
ئې په جنوبي وزيرستان کښې د يو قبائلي سردار
ملک اکرام الدين د لُور سره دوېم وادۀ کړے ؤ. دا
ملک اکرام الدين د دۀ نزدې خپلوان هم دے. ياده
دې وي چې په بيت الله محسود دا ډرون حمله هم د
ملک اکرام الدين په کور کښې شوې ده او ملک
اکرام الدين په دې حمله کښې بچ شوے دے ځکه
چې هغه دغه وخت کور موجود نۀ ؤ. وروستو بيا
طالبانو د مخبرۍ په الزام کښې ونيولو او د
پاکستان د وزير داخله په قول ئې قتل کړو خو
طالبانو د هغۀ د گرفتارولو تصديق او د وژلو ترديد
وکړو.

بيت الله محسود ابتدائي تعليم په داؤد شاه
بنو کښې په پيپل مدرسه کښې حاصل کړے ؤ. د
دې نه پس د نور تعليم دپاره د شمالي وزيرستان



صدر مقام ميران شاه ته لاړو او هلته په يوه مدرسه
کښې داخل شو. خو تعليم ئې پوره نۀ کړو او واپس
بنو ته راغے او ايف آر بنو کښې ئې ماتي ممن خېل



کښې څۀ موده په يو جومات کښې امامتي وکړه.

په ميران شاه کښې د طالب علمۍ په زمانه
کښې د دۀ اکثر د افغانستان د طالبانو سره
ملاقاتونه کېدل او د ميران شاه بازار قبلې غاړې ته
د مولانا جلال الدين حقاني اسلامي مدرسه دغه
وخت د افغانستان د طالبانو لوئے مرکز ؤ او بيت
الله محسود به هم دې مدرسې ته تلو راتلو.

د دې نه پس بيت الله محسود د طالبانو په
تحريک کښې شامل شو او په باگرام کښې ئې د
شمالي اتحاد خلاف د طالبانو سره په شريکه جنگ
وکړو. د دې نه پس بيت الله پرله پسې د طالبانو
ملگرتيا کوله.

په افغانستان کښې د طالبانو د ماتې خوړلو نه
پس بيت الله محسود وزيرستان ته راغلو او د هغه
ځائے نه راتلونکو طالبانو او عسکريت خوښو له ئې
پناه ورکول شروع کړل. په ۲۰۰۴ کښې چې کومه
فوجي کارروائي په وزيرستان کښې د محسودو په
علاقه کښې شوې وه په هغې کښې بيت الله ډېر
ښکاره کردار ادا کړے ؤ. فوجي قافلو، د سکاوټس

قلعو او سیکیورټي فورسونو ته ئې لوئے زیان رسولے ؤ. فوج په ۲۰۰۵ کښې د سره روغه په مقام د دۀ سره یوه امن معاهده وکړه خو دا معاهده تر ډېره وخته پاتې نۀ شوه. د معاهدې ماتېدو نه پس دۀ د تحریک طالبان پاکستان په نوم د یو تنظیم بنیاد کېښودو چې وروستو په ټولو قبائلي علاقو او د پښتونخوا په مختلفو علاقو کښې دغه تنظیم خور شو.